# دامیرِ اھلِسُنَّت نه د مُحَرَّم په باره کښې سوال و جواب

پښتو



پیشکش:
مجلس المدینۃ العلمیہ (دعوتِ اسلامی)
ترجمه:
ٹرانسلیشن ڈیپارٹمنٹ (دعوتِ اسلامی)

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْم ط

(دا رساله د امیر اهلِسنّت نه د مُحرّم په باره کښې شوي سوالونو جوابونو باندې مشتمل ده)

## د امیر اهلِسُنَّت نه د مُحَرَّم په باره کښې سوال و جواب

**دعائے جانشینِ امیرِ اهلِسنَّت:** یا ربِّ مصطفیٰ! څوک چې دا رساله ”د امیرِ اهلِسنّت نه د مُحَرَّم په باره کښې سوال و جواب“اولولي یا واوري. هغوئي د اهلِ بیتو د فیضان نه مالا مال کړې او د سَیِّدُ الشُّهَداء حضرت امام حسین رَضِیَ اللہُ عَنْہُ په برکت ئې بے حسابه جَنَّت ته داخل کړې. اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د دُرُودِ پاك فضیلت

د حضرت ابو دَرداء رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه روایت دے چې خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرئیلو: ”څوک چې سحر او ماښام په ما باندې لس لس ځله دُرُود شریف لولي د قیامت په ورځ به زما شَفَاعت هغه ته رسي.“

(الترغیب والترهیب، 261/1، حدیث:29)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

**سُوال:** ”مُحَرَّمُ الْحَرَام“ کښې د ”مُحَرَّم“ سره د ”حَرام“ لفظ ولې دے؟

**جواب:** ”حَرام“ لفظ د ”حَلال“ په مقابَله کښې نه دے، بلکه د دې لفظِ حَرام نه مراد عِزَّت او حُرمَت دے، د مُحَرَّم میاشت عِزَّت او حُرمت والا

وي، ځکه د دې سره لفظ حَرام وئيلے شي، لکه ځنګه چې کعبه شريفه په کوم جُمات کښې ده د هغې نوم مسجدُ الحَرام دے، چې مطلب ئې دے: عِزَّت او حُرمت والا جُمات. (ملفوظاتِ اميرِ اهلِسنت، 197/3)

سُوال: د مُحرَّم په ورځو کښې دا شعر ډير زيات وئيلے شي، د دې تشريح اوکړئ:

قتلِ حسين اصل ميں مَرگِ يزيد ہے
اِسلام زندہ ہوتا ہے ہر کربلا کے بعد

جواب: معلومه نه ده چې دا د چا شعر دے؟ خو د دې ظاهري معنٰی صحيح ده چې اِمامِ عالي مقام اِمامِ حسين رَضِیَ اللهُ عَنْهُ په ظاهره شهيد شو خو تر قيامته پورې د يزيد عِزَّت مړ شو. يزيد درې کاله او څو مياشتې په تخت شيَطَنَت (ناسته) اوکړه، د آلِ رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وينه ئې توئ کړه او ډير ظلمونه ئې اوکړه، د هغې نه پس د 39 کالو په عمر کښې په خراب مرګ مړ شو. (تاريخ الطبري، 87/4) شهيد خو ژوندے وي. په قرآنِ کريم کښې دي:

وَلَا تَقُوْلُوْا لِمَنْ يُّقْتَلُ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اَمْوَاتٌ ؕ بَلْ اَحْيَآءٌ وَّلٰكِنْ لَّا تَشْعُرُوْنَ ﴿۱۵۴﴾

مفهوم ترجمهٔ کنز الايمان: ”او څوک چې د الله په لاره کښې اووژلے شي، هغوئي ته مړه مهٔ وائې بلکه هغوئي ژوندي دي، خو تاسو ته خبر نشته“.

(پ2، البقرة:154)

په دې وجه چې څوک د الله پاک په لاره کښې قتل کړے شي هغوئي ته مړه وئيل خو غټه خبره ده، هغوئي مړه هم مهٔ ګڼړئ، ځکه چې هغوئي

ژوندي دي خو خلق پرې نه پوهيږي. د دويمې مصرعې مطلب دا دے چې د قربانو په ذريعه او د دين په خاطره د مړه کيدو په ذريعه اِسلام ژوندے کيږي، کله چې د مسلمان او د هغه ايمان مضبوط وي نو اسلام مضبوط وي، د اِسلام ژوند په دې کښې دے چې مسلمان په هر حالت کښې د قُربانۍ ورکولو د پاره تيار وي. کله چې مسلمانان 313 وو نو هغوئي د بدر په ميدان کښې د 1000 ګسانو لوئ لښکر ته شکست ورکړو او هغوئي ئې د ميدان نه زغلولي وو، خو نن سبا مسلمانان په غفلت کښې پراته دي، هر طرف ته ګناهونه دي او غير مسلمه په مونږه غالِب شوي دي. څوک چې قرباني ورکوي هم نو هغوئي ئې د دُنيا د پاره ورکوي، د آخرت تَصَوُّر کميږي، دومره قرباني خو مونږ له ورکول پکار ده چې لمُونځ خو اوکړو، د خوب قرباني ورکړو او د سحر د لمُونځ د پاره پاڅو، چې الله پاک توفيق راکړي نو تَهَجُّد هم ادا کړو، خپل عبادتونه صحيح کړو او د خپل وخت قرباني ورکړو او په مَدَني قافلو کښې سَفَر اوکړو. (ملفوظاتِ اميرِ اهلِسنت، 392/3)

غريب و ساده و رنگين ہے داستانِ حرم    نہايت اِس کی حسين، ابتدا ہيں اِسماعيل

سُوال: دا خبره تر کومه حده پورې صحيح ده چې د چا مقام څومره اوچت وي د هغوئي امتحان هم هغه همره غټ وي؟

جواب: داسې کيږي. رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: د الله پاک په لاره کښې د ټولو نه زيات تکليفونه ماته رارسيدلي دي.(ترمذی، 213/4،

حدیث: 2480 ماخوذا) د ټولو امتحان په مختلف انداز سره وو، زما د آقا صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د امتحان انداز بدل وو، د نورو انبیائے کرامو عَلَیْهِمُ السَّلَام د امتحان انداز جُدا وو او د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُم د امتحان انداز جُدا وو. صحابئ رسول حضرت خَبّاب رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ به په سکَروَټو څملولے شو او د پاسه به پرې کانړي ایښودے شو، کله کله به د هغوئي مالک هم د هغوئي سینې ته ورختلو، کله چې به د هغوئي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ وازګه په سکَروَټو پریوتله نو بیا به سکَروَټې مړې شوې، خو د دې باوجود چرې هم هغوئي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ اِسلام پرې نښودو. (طبقات ابن سعد، 3/123 ماخوذا) (ملفوظاتِ امیرِ اهلِسنت، 3/393)

سُوال: بعضې خلق مُحَرَّمُ الْحَرَام کښې د سفر کولو نه منع کوي، آیا په مُحَرَّمُ الْحَرَام کښې سفر کولے شي؟

جواب: د چا چې څه خوښه وي د خپله ځانه څه خبره جوړوي. که چرې داسې کَس ته مُحَرَّمُ الْحَرَام کښې د مدینے ټکټ میلاؤ شي نو آیا هغه به دا سوچ کوي چې مدینے منورې ته لاړ شم او که نه؟ مُحَرَّمُ الْحَرَام کښې سَفَر کولے شي. اللّٰه پاک دې په مُحَرَّمُ الْحَرَام کښې هم مونږ ته مدینه منوره اوښائي نو سفر به کوو. اِنْ شَآءَ اللّٰه الْکَرِیْم! (ملفوظاتِ امیرِ اهلِسنت، قسط: 217، ص10)

سُوال: د مُحَرَّمُ الْحَرَام په 10 ورځو کښې داسې کوم عمل اوکړے شي کوم چې شرعي طور صحیح وي او د اِیصالِ ثواب د پاره بهتر وي؟

جواب: د مُحرَّم د روژو فضیلتونه په احادیثو مبارکو کښې بیان کړے شوي دي.[1] د دې نه علاوه لمُونځ خو تول کال فرض دے. داسې د ګناهونو نه تول کال ځان بچ کول هم ضروري دي. مُحَرَّمُ الْحَرَام حُرمت والا میاشت ده، ځکه په دې کښې د کیدونکې ګناه سختي به هم زیاته وي، یعني د عامو ورځو په مقابَله کښې به مُحرَّم کښې د حَرام کار ګناه نوره هم زیاته شي، لکه څنګه چې د جُمعے د ورځې یوه نیکي د 70 نیکو برابر وي او یوه ګناه ئې د 70 ګناهونو برابر وي. (مرآۃالمناجیح، 2/323 325 336ملخصاً) د دې نه علاوه که چرې د روژې په میاشت اولَیۡلَۃُ الۡقَدۡر کښې څوک ګناه کوي نو دا د عامو ورځو په مقابَله کښې ډیره لویه ګناه شمیرلے شي.

(معجم صغیر ، 1/248)(ملفوظاتِ امیرِ اھلِسنت، قسط: 217، ص15)

سُوال: آیا قیامت به په 10 مُحَرَّمُ الحَرام قائمیږي؟

جواب: آؤ جي! د عاشورې [یعني د مُحَرَّمُ الْحَرَام په لسمه] ورځ به قیامت وي او د جُمعے ورځ به وي. (ابوداؤد، 1/390، حدیث: 1046) هسې خو داسې ډیرې د جُمعے ورځې تیرې شوې دي په کومو چې عاشوره وه، خو اوس هم لا د قیامت ډیرې نښې پاتې دي. بهر حال! قیامت به خامخا راځي، په دې ایمان ساتل لازمي دي.

(تفسیر روح البیان، پ 24، المؤمن، تحت الآیة: 59، 8/199 200)(ملفوظاتِ امیرِ اھلِ سنت، 402/3)

---

[1]… د حضرت ابو هریره رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ نه روایت دے چې نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: د روژې د میاشت نه پس د تولو نه غوره روژې د الله پاک د میاشتې مُحرَّم دي. (مسلم، ص456، حدیث: 2755)

سُوال: حديثِ پاک کښې د 10 مُحرَّم د روژې سره د 9 مُحرَّم يا د 11 مُحرَّم د روژې ميلاوهلو تاکيد دے،[1] که چرې يو کَس دا درې ورځې پرله پسې روژې اونيسي نو آيا په دغه حديث به عمل کيږي؟

جواب: که چرې چا درې روژې اونيولې نو د حديثِ پاک خلاف به نه وي، ځکه چې حديثِ پاک کښې د دريو روژو نيولو نه منع نه ده فرمائيلے شوې. که چرې دا منع وه چې صرف د 9 روژه اونيسئ يا د 11 روژه اونيسئ، نو بيله خبره وه، خو په حديث شريف کښې د دې نه منع نه ده فرمائيلے شوې. که چرې څوک د مُحَرَّمُ الْحَرَام د مياشتې ټولې روژې اونيسي نو دې کښې هم هيڅ باک نشته، دا ښه خبره ده. (ملفوظاتِ امیرِ اہلِسنت، قسط:217،ص5)

سُوال: په 10 مُحَرَّمُ الْحَرَام په سترګو کښې د رانجو لګولو ترغيب دے، که چرې په دغه ورځ روژه وي نو بيا به څه کولے شي؟

جواب: د روژې په حالت کښې په سترګو کښې رانجه لګول جائز دي، بلکه که چرې په مرئ کښې د رانجو اثر هم راشي نو جائز دي، روژه به نه ماتيږي. (ردالمحتار، 3/ 421)(ملفوظاتِ امیرِ اہلِسنت، 3/405)

سُوال: که چرې يوه اسلامي خور د روژو قضا راوړي نو آيا هغه په نهم او لسم

---

1... د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: د عاشورې [يعني د مُحَرَّمُ الْحَرَام په لسمه] ورځ روژه نيسئ او په دې کښې د يهوديانو داسې مخالفت کوئ چې د عاشورې نه يوه ورځ مخکښې يا يوه ورځ وروستو هم روژه نيسئ. (مسند امام احمد، 1/518، حديث:2154)

مُحَرَّمُ الْحَرَام قضا روژې نيولے شي؟

جواب: آؤ جي! که چرې د قضا په نِيَّت ئې نيسي نو صحيح دي د نفل نِيَّت دې نه کوي. (که چرې چا د قضا او نفل په نِيَّت يوه روژه اونيوله نو قضا روژه به ئې ادا کيږي ځکه چې د قضا روژې نيول د نفل په مقابَله کښې زيات اهم دي).

(الاشباہ والنظائر، ص 35 ماخوذا) (ملفوظاتِ امیرِ اہلِسنت، 288/3)

سُوال: آيا په مُحَرَّمُ الْحَرَام کښې نوکان کټ کولے شو؟

جواب: آؤ جي! په مُحَرَّمُ الْحَرَام کښې نوکان کټ کولے شي.

(ملفوظاتِ امیرِ اہلِسنت، 50/6)

## په مُحَرَّمُ الحَرَام کښې ښپې ابله اوسيدل څنګه دي؟

سُوال: د مُحَرَّمُ الْحَرَام مياشت ليدو سره بعضې زنانه او نارينه پيزار پښپو کول پريږدي او وائي چې دا زمونږ مَنَښتَه ده نو د هغوئي داسې کول څنګه دي؟

جواب: د مُحَرَّمُ الْحَرَام مياشت ليدو سره پيزار نه پښپو کول او ښپې ابله ښپې پاتې کيدل که چرې د سوګ [يعني د غم] په نِيَّت سره وي نو حرام او دوزخ ته بوتلونکے کار دے. شريعت کښې د دريو ورځو نه زيات سوګ جائز نه دے، البته ښځه به د خاوند په مرګ باندې څلور مياشتې او لس ورځې سوګ [يعني غم] کوي. که چرې څوک د سوګ په نِيَّت سره نه بلکه هسې ښپې ابله ښپې پاتې کيږي نو هيڅ باک نشته او نه به ګنهګاريږي، البته د مُحَرَّمُ الْحَرَام په وړومبو لسو ورځو کښې خلق د غم او سوګ په وجه

بنېپې ابله بنېپې اوسي، ځکه د دې مُشابَهَت نه ځان ساتل پکار دي. د بنېپې ابله بنېپې پاتې کېدلو مَنَبتَه څه شرعي مَنَبتَه نه ده چې پوره کول ئې واجب وي او نه داسې قسمه مَنَبتَه منل د څه فضیلت خبره ده.

(ملفوظاتِ امیرِ اهلِسنت، 178/1)

## د سخرګنئ په کور کښې د مُحَرَّمُ الحَرام میاشــت لیدو کښې څــه باک نــشته

سُوال: دا خبره تر کومه حده پورې صحیح ده چې ناوې دې د نکاح په ورومبي کال د مُحَرَّمُ الْحَرَام یا د صَفَرُ الْمُظَفَّر میاشت د سخرګنئ په کور کښې نه وینې؟

جواب: دا هم یوه بے بنیاده او غلطه خبره ده چې ناوې دې د واده په ورومبي کال د مُحَرَّمُ الْحَرَام یا صَفَرُ الْمُظَفَّر میاشت د سخرګنئ په کور کښې نه وینې. فرض کړئ که چرې د ناوې د سترګو نظر کمزورے وي یا نابینا وي یا د هغوئي کور په یوه پلازه کښې وي نو هغه به د سخر ګنئ په کور کښې میاشت څنګه وینې؟ که چرې د ناوې مور پلار وفات شوي وي او د هغې څوک وارث نه وي نو آیا د میاشت لیدلو د پاره به هغه دارُ الامان ته لیږلے شي؟ **یاد ساتئ!** په شرعي لحاظ سره داسې هیڅ مسئله نشته چې ناوې دې د نکاح په ورومبي کال د مُحَرَّمُ الْحَرَام یا د صَفَرُ الْمُظَفَّر میاشت د سخرګنئ په کور کښې نه وینې بلکه دا تول عام وهمونه دي چې ختمول ئې ضروري دي.

(ملفوظاتِ امیرِ اهلِسنت، 179/1)

سُوال: که چرې زنانه په عِدَّت کښې وي او خوابښې هغې ته د خاوند د وهلو پيغور ورکړي بلکه کنزلې ورته اوکړي، نو په داسې حالت کښې به زنانه څه کوي؟

جواب: صبر دې کوي.

ہے صبر تو خزانۂ فردوس بھائیو! عاشق کے لب پہ شکوہ کبھی بھی نہ آسکے

د مُحَرَّمُ الْحَرَام مياشت هم د صبر سبق ورکوي، په ميدانِ کربلا کښې په اهلِ بيتو خومره ظلمونه اوکړے شو هغوئي په هغې باندې صبر اوکړو ځکه دې دغه اسلامي خور هم صبر اوکړي او د دې نه علاوه بل څه حل هم نشته. خوابښې داسې وئيلو سره خامخا ګنهګاريږي، د هغې د پوهه کولو نه علاوه بله لار نشته. (ملفوظاتِ امیرِ اہلسنت،46/6)

## مهيان (کبان) نه خوړل او نوې جامې اغوستل عيب دار ګڼړل څنګه دي؟

سُوال: مُحَرَّمُ الْحَرَام کښې مهيان [يعني کبان] نه خوړل او نوې جامې اغوستل معيوبه ګڼړل څنګه دي؟

جواب: مُحَرَّمُ الْحَرَام کښې که چرې څوک د سوګ [يعني د غم] په وجه مهيان نه خوري يا نوې جامې اغوستل بد ګڼړي نو ګنهګاريږي به. په عوامو کښې دا خبره مشهوره ده چې د عاشورې [يعني د مُحَرَّمُ الْحَرَام په

لسمه] ورځ غوښه نه دي خوړل پكار او كراچۍ كښې چې كوم ځائے كښې زمونږ زوړ كور وو هلته به د غوښې دكانونه د عاشورې په ورځ بند وو، بيا په مزه مزه د عاشورې په ورځ د غوښې دكانونه بيرته كيدل شروع كړے شو او داسې د غوښې دكانونو بندولو رواج ختم شو. اوس هم بعضې خلق د عاشورې په ورځ غوښه نه خوري او كيچړه خوري حالانكه په كيچړه كښې هم غوښه وي. دا يوه عجيبه خبره ده چې د كيچړې په شكل كښې خو غوښه خوري خو د غوښې اينكولے او پلاؤ جوړولو نه منع كوي. **ياد ساتئ!** په **مُحَرَّمُ الْحَرَام** بلكه په ټول كال كښې داسې يو ساعت يا ګهنټه نشته چې په هغې كښې د مهيانو او غوښې خوړل شرعاً منع وي البته كه په بله څه خاص وجه منع كړے شي نو هغه بيله خبره ده.

(ملفوظاتِ اميرِ اهلِسنت، 178/1)

سُوال: د عاشورې په ورځ كه د صَدَقے څه فضيلت وي نو اووائې؟

جواب: څوک چې د عاشورې [يعني د لسم مُحَرَّمُ الْحَرام] په ورځ صدقه كوي نو هغه ته به ټول كال د صدقے كولو ثواب ميلاويږي.

(كشف الخفاء، حرف الميم، 253/2، حديث: 2641)

عام خلق د صَدَقے مطلب دا ګڼري چې په وړو كښې انده كيږدي او چا له ئې وركړي، ورسره تيل كيږدي، داسې تور چيلے يا تور بانګې وركولو ته صَدَقه وائې، حالانكه صَدَقه صرف دې ته نه وائي، د صَدَقے مطلب خيرات

دے یعني د الله پاک په لار کښې خرچ کول، کوم څيز چې هم د الله پاک په لار کښې خرچ کولے شي هغې ته به صَدَقه او خيرات وئيلے شي.

(ملفوظاتِ امیرِ اھلِسنت،403/3)

سُوال: ګڼړ شمير خلق دي څوک چې د **مُحَرَّمُ الْحَرَام** په میاشت کښې د نیاز اهتمام کوي او کیچړے جوړوي. د هغې د پاره د دکانونو، مارکيټونو او کورونو نه چنده هم اخستے شي. په دې کښې څه څه احتیاطونه کول پکار دي؟

جواب: د دې باقاعده طور تنظيمونه وي کوم چې ټول کال د نیاز اهتمام کوي او په دې کښې ډيرې بے احتیاطۍ هم کوي. بعضې خلق خو دهمکيانې ورکوي او چنده غواړي او مخامخ کَس د هغه د شر نه د بچ کيدو د پاره چنده ورکوي. ظاهره ده چې اوس به دا چنده رشوت شي. (فتاویٰ رضویه،653/19) او د دې رقم نه به د نیاز کولو اجازت نه وي بلکه هغه کَس ته به هغه همره رقم بيرته ورکول وي. (فتاویٰ رضویه،551/23) بيا په دې کښې دا هم کيږي چې ټوله شپه ويخ پاتې کيږي او ديګونه پخولے شي او په هغې کښې درز غوبل کيږي، سندرے غږولے کيږي، محلے والا هم د چغو او سورو او د لوګې وغيره نه تنګيږي، لمُونځونه نه کيږي، نور دا چې سړک هم خرابولے شي، څيزونه ماتولے شي، نښې جوړې شي بلکه بعضې وخت خو کندې هم ويستے شي په کومو کښې چې د باران اوبه جمع کيږي او ختے جوړيږي، دغه شان مچان او ماشي هم زياتيږي، تلونکو راتلونکو ته هم ډير

تکليف وي، څوک پکښې غورزيږي، څوک زخمي کيږي، د چا نقصان کيږي. صرف دومره نه! بعضې خلق ځاروي هم حلالوي په کوم کښې چې سم د جشن نظاره وي.

## نياز پخول اعلٰی او افضل کار دے

صحيح او افضله طريقه دا ده چې د چندې کولو سره د ديګ پخولو په ځائے انسان په خپل کور کښې يوه پتيله پخه کړي، ځکه چې اصل مقصد د الله پاک رضا ده. که چرې دوستان په خوشحالئ سره په شريکه پيسې راجمع کړي او ديګ پخول غواړي نو په بيان شوؤ خيزونو کښې به ورته احتياط کول وي. د دې يو حل دا هم دے چې ځائے په ځائے کيچنونه جوړ شوي دي په هغې کښې دې پخلے اوکړے شي، کيدے شي چې څه خلق وي چې هغوئي په کيچنونو کښې پخوي، دې کښې فائده دا ده چې خلق به هم د تکليف نه بچ کيږي او سړکونه به هم نه خرابيږي. د بُزرګانو يا شهيدانو د پاره نياز کول د ثواب، اعلٰی او افضل کار دے، خو هغه به هم د شريعت په حدودو کښې دننه کولے شي بيا به دا اعلٰی وي او ثواب به پريې ميلاويږي. ګنې د ګناهونو په شکل کښې خو ډير خلق ئې هم کوي.

(ملفوظاتِ اميرِ اهلِسنت،218/3)

سُوال: د نياز تقسيمولو په باره کښې يو څو نصيحتونه اوکړئ.

جواب: بعضې وخت خلق نياز خوکوي خو د نياز په نوم ئې تموله پخپله خوري.

داسې ځاروے حلال کړي او د هغې اینه او پښتورګي وغیره د ناشتې د پاره بیل کړي او خلقو له ئې بالکل نه ورکوي، داسې نه ده پکار، چې د نیاز سلسله مو کړې ده نو په ټولو ئې اوخورئ او ټولو له ئې ورکړئ. داسې دا هم کیږي چې په خپلو، د خپلو خپلوانو او دوستانو کورونو ته خو ډکې ډکې پتیلې لیږلے شي خو خلقو له ښه دیکې ورکوي. رَش زیات شي او خلق د نیاز د پاره منتونه کوي چې "ما له راکړئ، ما له راکړئ" نو د ټوقو ټقالو د پاره دروغ وائي د "خلاص خلاص" چغو وهلو سره دیګونه بندوي او په رش کمیدو بیا د دیګونو خُلے پرانیزي. بیا چې رش زیات شي نو بیا دا عمل شروع کړي او داسې څو ځله کیږي. دا ټول دروغ او ګناه ده، د داسې کولو نه دې ځان بچ کړي. (ملفوظاتِ امیرِ اهلِسنت،219/3)

سُوال: آیا د 10 مُحَرَّمُ الْحَرَام نه مخکښې او وروستو هم نیاز کیدے شي؟

جواب: ټول کال چې کله هم ایصالِ ثواب یا نیاز کوئ، بالکل جائز دے او دې کښې هیڅ باک نشته. اوس که چرې مور له هم کیچړه جوړوي، واده شوې لور او ځوي له هم کیچړه جوړول وي، داسې د سخرګنئ په کور کښې هم کیچړے جوړیږي نو بهتره دا ده چې په یوه ورځ د کولو په ځائے دې ورځې تقسیم کړے شي او یو بل له دې تازه تازه کیچړے ورکړي، په دې کښې زیاته مزه ده. داسې په غټ اختر کښې هم ورځې تقسیمیدے شي، چې په وړومبۍ

ورځ به ئې مونږه [قرباني] اوکړو، په دويمه ورځ ئې تاسو اوکړئ او په دريمه ورځ به ئې هغوئي اوکړي، داسې يو بل له تازه غوښه ورکړے کيدے شي.

بهر حال! د 10 **مُحَرَّمُ الْحَرَام** ورځ يوه يادګاره ورځ ده او د دې خپل فضيلت دے. (ملفوظاتِ اميرِ اهلِسنت،3/309)

سُوال: په 10 محرم باندې په کور والؤ د زړه د اِخلاصه خرچ کول وي، خو مونږ په 10 **مُحَرَّمُ الْحَرَام** په مَدَني قافله کښې يو، نو په دغه ورځ به په خپل کور والؤ څنګه خرچ کوؤ؟

جواب: د مخکښې ورله رقم ورکړئ او بيا لا ړ شئ يا د عاشورې [يعني د مُحَرَّمُ الحَرام په لسمه] ورځ ئې ورله اوليږئ. اوس خو رابطه کول او څيز رَسَوَل هم آسان شوي دي، بس کوونکے پکار دے. (ملفوظاتِ اميرِ اهلِسنت،3/403)

سُوال: تاسو کربلائے مُعلّٰی ته حاضِري کله کړې وه؟

جواب: کربلائے مُعلّٰی ته د حاضرئ کال ماته ياد نه دے، ډير کلونه اوشول. په ژوند کښې دوه ځله مې د بَغداد شريف سَفَر کړے دے او دواړه ځله کربلا شريف ته حاضري هم شوې ده. (ملفوظاتِ اميرِ اهلِسنت،3/198)

سُوال: که چرې د کربلا يوه يادګاره واقعه وي نو بيان ئې کړئ.

جواب: **اَلْحَمْدُلِلّٰه**! ما دوه ځله بَغداد شريف او کربلا شريف ته حاضري کړې ده، نجفِ اَشرف کښې هم د حاضرئ سعادت ميلاؤ شوے دے او د

حضرت حُر رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه مزار ته هم د حاضرۍ شرف حاصل شوے دے. د کربلا شريف يادګاره واقعه دا ده چې مونږه هلته د نهرِ فُرات اوبه اُونه څښلې حالانکه خلق هغه څښي. څه داسې اوشو چې مونږه د بغداد شريف نه د ځان سره اوبه واخستې او لاړلو او زمونږ د ټولو روژه وه، د روژې په حالت کښې د کربلا ټولې حاضريانې اوشوې، داسې د اوبو څښلو ضرورت رانغلو، چې د ماښام وخت شو نو مونږه د حضرت حُر رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه په مزار کښې وو کوم چې د کربلا نه بهر دے، زمونږ سره چې کومې اوبه وې په هغې مو روژه ماته کړه. وروستو زمونږ دا ذهن هم جوړ شو چې شکر دے چې د نهرِ فُرات اوبه مو اُونه څښلې، ځکه چې کومې اوبه علـي اصغر ته ميلاؤ نه شوې، د هغوئې بابا جان اِمامِ حسين رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ ته ميلاؤ نه شوې، په اهلِ بيتو چې کومې اوبه بندې کړے شوې، مونږه به هم هغه اوبه نه څښو. شايد چې په وړومبۍ حاضرۍ کښې مو دا ذهن جوړ شوے وو او په دويمه حاضرۍ کښې مو اِرادةً نه وې څښلې. کاش! چې داسې جذبه ميلاؤ شي.

خشک ہو جا خاک ہو کر خاک میں مِل جا فُرات
خاک تجھ پر ! دیکھ تو ! سُوکھی زبانِ اَہلِ بَیت

(ملفوظاتِ امیرِ اهلِسنت،393/3)

سُوال: د جنورۍ په وړومبـې تاريخ د نوي کال مبارکې ورکولو په باره کښې تاسو څه فرمائې؟

جواب: داسې ښکاري چې کافرانو په زړونو قبضه شروع کړې ده. او مونږه يو چې د هغوئي ستائنه وايو، په هغوئي پسې لاس په نامه شاته تلونکي ښکارو، هائے افسوس! د مسلمانانو دا څه حالت شو، الله پاک دې په مونږ مسلمانانو رحم اوکړي. د نوي کال مبارکي خو د هغوئي انداز دے، په ماشوم والي کښې خو مونږ نه وو اوريدلي خو اوس شايد چې زيات شوے دے. اے کاش! اے کاش! چې دلته په وړومبي مُحَرَّمُ الْحَرَام يو بل ته [د نوي کال] مبارکي ورکول رواج جوړ شي.

اَلْحَمْدُلِلّٰه! دا مَدَني کال دے. حضرت عمرِ فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ دا شروع کړے دے او د دې تَعَلُّق د هجرت سره دے. (تاريخ الخلفاء، ص108)

ما خو ډير کوششونه اوکړه چې اسلامي تاريخ رائج شي. اَلْحَمْدُلِلّٰه! ما ته د اسلامي تاريخ ذُوالْحِجَّةِالْحَرَام نهمه شپه ياده ده. نن منٰی شريف کښې د لکونو حاجيانو سيرلي دي او هر طرف ته صرف قطارونه دي.

فضا میں لبیک کی صدائیں زفرش تا عرش گونجتی ہیں
ہر اک قربان ہو رہا ہے زباں پہ یہ کس کا نام آیا
یہ کون سر سے کفن لپیٹے چلا ہے الفت کے راستے پر
فرشتے حیرت سے تک رہے ہیں یہ کون ذی احترام آیا
ز ہے مقدر حضورِ حق سے سلام آیا، پیام آیا
جھکاؤ نظریں بچھاؤ پلکیں ادب کا اعلیٰ مقام آیا

اَلْحَمْدُلِلّٰه! زه خو په خپل دستخط کښې او سائن کښې هم اِسلامي تاريخ ليکم. اوس چې کله ضرورت وي د انګلش تاريخ هغه هم ليکل وي. کله د انګلش تاريخ نه پته لګي د اسلامي تاريخ پته نه لګي نو هغه ليکم. تاسو ټول ګواه اوسئ! زما د هجري کال سره مينه ده. زما آقا صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې کله مدينے منورې ته تشريف يوړلو د هغه وخت يادګار دا کال دے. اميرِ المُؤمنين حضرت فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ دا جاري کړو د دې مطابق عمل کولو کښې به د سنت ثواب ميلاؤيږي او دا د فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ سُنَّت شو. زما د خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰی صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مشهور فرمانِ عظمتِ نشان دے: زما صحابهٔ کرام د ستورو په شان دي د چا پيروي چې اوکړئ (يعني په چا پسې چې روان شئ) هدايت به بيامومئ. (مشکوٰة المصابيح، 2/ 414، حديث: 6018) په سُنَّتِ صحابه به د عمل کولو اِنۡ شَآءَ اللهُ الۡکَرِيۡم! ثواب ميلاؤيږي. اَلْحَمْدُلِلّٰه! عرب ملکونو کښې نوے کال د محرم د ورومبي تاريخ نه د شروع کيدو رواج دے. (مدنی مذاکروں کے 137 سوال و جواب، ص14)

سُوال: آيا په مُحَرَّمُ الْحَرَام کښې مقبرې ته د تللو څه فضيلت شته؟ مقبرې ته په تلو کښې څه احتياطونه پکار دي؟

جواب: د مکتبۃ المدينه د رسالے "قبر والوں کی 25 حکايات" په صفحه نمبر 46 باندې دي: په مُتَبَرَّک (يعني بَرَکت والا) ورځو کښې هم د قبرونو زيارت

افضل دے، مثلاً اخترونو (يعني وړوکي او غټ اختر)، 10 مُحَرَّمُ الْحَرَام او عَشَرۃ ذي الحِجّه (يعني د ذُوالحِجّې وړومبۍ 10 ورځې) (فتاویٰ هنديه،350/5)

د عاشورې (يعني د لسم مُحَرَّمُ الْحَرام) په ورځ مقبرې ته تلل ښه خبره ده، خو مقبرې ته تللو کښې دې دا احتياط اوکړے شي چې په يو قبر چرته ښپې کيږ نه کړدئ. دلته مقبره کښې قبرونه په ترتيب سره نه وي او ګڼر شمير خلق د قبرونو د پاسه ښپې کړدي او ځي. د مسلمان په قبر ښپې اېښودل حرام دي، (بهارشريعت، 847/1، حصه:4) بلکه که چرې قبرونه وران کړے شو او لاره جوړه کړے شوه نو په هغې تلل هم حرام دي. (بهارشريعت، 847/1، حصه:4) تر دې پورې چې که چرې شک هم وي چې دا لاره د قبرونو ورانولو سره جوړه کړے شوې ده نو په هغې تلل هم حرام دي. (درمختار، 183/3)

کوم خلق چې تر اوسه پورې په قبرونو تلي وي هغوئي ته‌ولو له توبه کول لازمي ده او د بيا د پاره د دې نه ځان ساتل واجب دي. بعضې خلق په قبرونو بغير د څه وجهې خاوره يا اوبه اچوي، دا فضول کار دے. (فتاویٰ رضويه، 373/9) د خاورو اخلولو يا که بوټي نال شوي وي نو د هغې د پاره چې څومره ضرورت وي نو هغه همره اوبه اچول کيدے شي. (درمختار، 169/3) البته د مړي د خخولو نه پس په قبر اوبه اچول د سُنَّت نه ثابت دي.

(معجم اوسط، 332/4، حديث:6146)(ملفوظاتِ اميرِ اهلِسنت، 338/3)

سُوال: د مُحَرَّمُ الْحَرَام په وړومبي تاريخ چې کومه 130 ځله ”بِسۡمِ الله شريف“ ليکلے شي، د هغې د ليکلو طريقه اوښائې.

جواب: چې کله هم د اچولو، ځښلو يا زوړندولو د پاره د تعويذ په طور يو آيت يا عبارت ليکئ نو دائرے والا ټکو دائره به کهولاؤ ساتل وي مثلاً ”الله“ کښې ”ه“ او ”رحمٰن“ او ”رحيم“ دواړو کښې د ”م“ دائره کهولاؤ وي. په ليکلو کښې شد، زبر او نور اعراب لګول ضروري نه دي لکه څنګه چې په ”بِسۡمِ اللهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم“ کښې دي او که چرې اولګولے شو نو بيا پکښې هم څه باک نشته. (ملفوظاتِ اميرِ اهلِسنت، قسط:126)

د مُحَرَّمُ الْحَرَام په وړومبي تاريخ 130 ځله ”بِسۡمِ اللهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم“ (په لاسو) د ليکلو (يا په بل چا په لاسو د ليکلو سره) چې څوک د ځان سره دا اوساتي (يا د پلاسټک کوټنګ کولو سره په کپړا، ريګزين يا څرمن کښې اوګنډي او په غاړه ئې کړي) اِنۡ شَآءَ اللهُ الْكَرِيۡم! ټول عمر به په هغوئي يا د هغوئي په کور کښې چاته هم څه بدي نه رسي. (په لاس د ليکلو سره چې د تعويز کوم برکتونه وي، هغه د فوټو کاپئ يا کمپوز شوي نه وي).

(فيضانِ سنت، ص 136)

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

## نیک او لمونځ ګزاره جوړیدو د پاره

هر زیارت د مابنام د لمانځه نه پس ستاسو په ښائے کښې کیدونکې د **دعوتِ اِسلامي** د سُنّتو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رِضائے اِلٰهي د پاره ښو ښو نِيَّتونو سره توله شپه تیروئ ❁ د سُنّتو د تربِيَّت د پاره **مَدَني قافِلو** کښې عاشِقانِ رسُول سره هره میاشت د دري ورځو سفر او ❁ هره ورځ د **"فِکرِ مَدِینه"** په ذريعه د **مَدَني اِنعاماتو** رِساله ډکوئ او د هرې مَدَني میاشتې په يکم تاريخ ئې د خپل ځائے ذِمّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

زما مَدَني مقصد: **"ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنیا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي."** اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ. د خپلې اِصلاح د پاره په **"مَدَني انعاماتو"** عمل او د ټولې دُنیا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پار **"مَدَني قافِلو"** کښې سفر کول دي. اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ








فیضانِ مدینه محلّه سوداګران زړه سبزي منډۍ، بابُ المدینه (کراچۍ)
UAN: +92 21 111 25 26 92 I Ext: 7213
Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com